بسم الله الرحمن الرحيم

# د افغـــانستان اســـلامي امـــارت

## د ارشـــاد، حج او اوقـــافو وزارت

### د مساجدو د ارشاد او انسجام رياست

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**
**ليکلی تقرير او بيان چې د هيواد دمرکز او ولاياتو**
**ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

---

**۳۰/ رجب المرجب /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق۱۲ / دلو/۱۴۰۳هـ، ش**

# د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د اُمت بهتري په نورو اُمتونو باندې

الحمد لله الذي يحيي ويميت، وله اختلاف الليل والنهار، بيده ملكوت كل شيء يخلق ما يشاء ويختار، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له رب الأرض والسماوات وما بينهما العزيز الغفار، وأشهد أن محمدا عبده ورسوله المصطفى المختار، صلى الله عليه وسلم وعلى آله وصحبه الطيبين الأطهار، أما بعد:

قال الله سبحانه وتعالى: (وَكَذَٰلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً). البقرة:(۱۴۳)

درنو حاضرينو او محترمو اوريدونکو!

**السلام عليكم ورحمة الله وبركاته.**

الله جل جلاله ځينو اشخاصو ته په ځينو نورو فضيلت ورکړی دی لکه د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فضيلت په ټولو انبياوو اوعاموانسانانو باندې، يا د صحابه کرامو بهتري په عامو مسلمانانو باندې .همدارنگه ځينو ځايونو ته يې په ځينو نورو فضيلت ورکړی دی،لکه مکه مکرمه، مدينه منوره په همدې ترتيب يې د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم امت ته يې په نورو امتونو بهتري او فضيلت ورکړی دی.

الله جل جلاله د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم اُمت ته په نورو ټولو اُمتونو بهتري ورکړی ده او دا اُمت يې په ډيرو زياتو خصوصيتونو نازولی دی چې بل کوم اُمت ته دا امتياز حاصل نه ؤ.

د محمدي –صلی الله علیه وسلم- اُمت لپاره دومره فضيلت او بهتري کافي ده چې دا يې د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم اُمت گرځولی دی، دا د هغه چا اُمت دی چې هغه په ټولو کائناتو غوره او بهتره دی او په ټولو پيغمبرانو کې غوره او افضله پيغمبر دی.

الله تعالی په قرآن کريم کې ددې اُمت په بهترۍ گواهي ورکړی ده او فرمايلي يې دي:(كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ)آل عمران:۱۱۰.

ترجمه:- يئ تاسې (ای محمدي امته !) خير (بهتر د هر هغه) امت چې ايستلي شوي دي لپاره د خلقو. چې حکم کوئ تاسې (هر چاته) په معروف (نيکۍ) سره او منع کوئ تاسې (هر څوک )له منکر (بدۍ) څنې.

او ایمان لرئ په الله باندې (په دوام او ثبات سره)

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ بَهْزِ بْنِ حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، أَنَّهُ سَمِعَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي قَوْلِهِ تَعَالَى: {كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ} [آل عمران: ١١٠] قَالَ: «أَنْتُمْ تُتِمُّونَ سَبْعِينَ أُمَّةً أَنْتُمْ خَيْرُهَا وَأَكْرَمُهَا عَلَى اللَّهِ» سنن الترمذي (٥/ ٢٢٦)

ژباړه:- بهز بن حکیم د خپل پلار څخه روایت کوي او بیا له خپل نیکه (معاویه بن حیده) رضي الله عنه څخه روایت کوي ، د بهز نیکه معاویه بن حَیدة رضي الله عنه وایې چې ما د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه اوریدلي دي چې نبي علیه السلام ددې آیت {كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ} کې وفرمایل چې په تاسې به تکمیلولی شي اویا امتونه چې تاسو به له هغوی څخه بهتره یاست او تاسې زیات عزت مند یاست په الله تعالی باندې.

علامه طیبی رح ددې حدیث په شرح کې وایي: مراد د اویا أُمتونو څخه کثرت د امتونو دی ، نه تحدید او د (تُتِمُّونَ)څخه مراد اختتام دی یعنې لکه څرنگه چې ستاسو پیغمبر خاتم الأنبیاء دی ، دارنگه تاسې هم خاتم الأمم یاست .شرح المشكاة للطيبي(١٢/ ٣٩٧٣)

په یو بل حدیث شریف کې راځي نبي علیه السلام فرمایلي دي چې زه بهتره گرځول شوی یم په شپږو خصلتونو سره چې هیچا ته زما څخه مخکې نه دي ورکړل شوي او بیا د حدیث په آخر کې فرمایي چې زما أُمت بهتره أُمت گرځول شوی دی.

عَن أَبِي هُرَيرة، عَن النَّبِيّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيه وَسَلَّم قال: «فضلت بخصال ست لم يعطهن أحد قبلي: غفر لي ما تقدم من ذنبي وما تأخر وَأُحِلَّتْ لِيَ الْغَنَائِمُ وَلَمْ تُحَلَّ لأَحَدٍ قَبْلِي وجعلت أمتي خير الأمم» مسند البزار (١٤/ ٣٩٣)، مسند أحمد مخرجا (٢/ ١٥٦)

ژباړه:- دابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: زه بهتره گرځول شوي یم په شپږو خصلتونو سره چې نه ؤ ورکړل شوي هیچا ته مخکې له ما څخه ماته مخکني او وروستني (ټول) گناهونه بښل شوي دی او ماته حلال گرځول شوي دي غنیمتونه او نه ؤ حلال کړل شوي هیچا ته مخکې له ما څخه او گرځول شوی دی زما أُمت بهتره د ټولو أُمتونو څخه.

**د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د أُمت بهتري په نورو أُمتونو باندې په لاندې ډول سره ده.**

**١-** د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم أُمت په نورو أُمتونو ځکه بهتره ؤ چې ددوی پیغمبر په نورو پیغمبرانو غوره او بهتره ؤ.

په یو حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «...وَأَنَا أَكْرَمُ وَلَدِ آدَمَ عَلَى رَبِّي وَلَا فَخْرَ». سنن الترمذي (٥/ ٥٨٥)

ژباړه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی ، هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: او زه ډیر عزتمند یم د آدم علیه السلام د اولادې څخه په خپل رب باندې او فخر نشته .یعنې زه داخبره دفخر په توگه نه کوم.

**٢-** د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د أُمت بهتري په نورو أُمتونو په دې سره ده چې ددې أُمت شریعت اسانه شریعت دی او هغه سختي او درانه احکام چې په نورو أُمتونو مقرر ؤ، د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په امت باندې نه دي مقرر شوي. الله جل جلاله فرمایلي دي:(مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ) المائدة: (٦)

ترجمه:- اراده نه لري الله (د تطهیر په دې تکلیف کې پر تاسې دا) چې مقرر کړي پر تاسی څه حرج( تنگوالی یا سختي).

همدا راز رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: عَنْ أَبِي أُمَامَةَ -فی حديث طويل -عن النبي –صلى الله عليه وسلم- قال:«... وَلَكِنِّي بُعِثْتُ بِالْحَنِيفِيَّةِ السَّمْحَةِ» مسند أحمد (٣٦/ ٦٢٣)

ژباړه:- د ابو أُمامه رضي الله عنه څخه روايت دی هغه په يو اوږد حديث کې له نبي عليه السلام څخه روايت کوي چې نبي عليه السلام وفرمايل: مگر زه ليږل شوی يم په داسې (دين ) باندې چې هغه مايل دی له باطل څخه حق ته او هغه چې هيڅ سختي او تنگسي په کې نشته.

الله تعالی د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم په صفت کې فرمايلي دي:(وَيُحِلُّ لَهُمُ الطَّيِّبَاتِ وَيُحَرِّمُ عَلَيْهِمُ الْخَبَآئِثَ وَيَضَعُ عَنْهُمْ إِصْرَهُمْ وَالأَغْلاَلَ الَّتِي كَانَتْ عَلَيْهِمْ) الأعراف:(١٥٧)

ترجمه:- او حلالوي دوی ته گرد (ټول) طيبات (پاک شيونه چې حرام کړی شوي وو پر دوی باندې) او حراموي پر دوی باندې خبيث( پليت) شيان، او لرې کوي له دوی څخه درانه بارونه د دوی او قيدونه د سختيو هغه چې وو پر دوی په تيرو امتونو کې سخت او درانده حکمونه ؤ چې له امله به يې خلک په سختی او حرج کې ؤ، د مثال په توگه: کله به چې د بني اسرائيلو جامو پليتي ورسيده ؛نو هغوی په دې مکلف ؤ چې هغه ځای په کينچي قطع کړي او پرته له دې د هغوی جامې نه پاکيدې،خو د محمدي صلی الله عليه وسلم د امتي جامو ته چې گندگي او پليتي ورسيږي يواځې په مينځلو پاکيږي.تفسير القرطبي (٧/ ٣٠٠)

همدا راز کله به چې ديهودانو ښځه حائضه شوه له هغې سره به يې په کور کې خوراک او څښاک نه کولو او يوځای به ورسره نه اوسيدل ، خو د محمد صلی الله عليه وسلم د أُمت څخه که کومه ښځه حائضه شي پرته له کوروالي څخه نور هغه ښځه په کور کې عادي ژوند تيروي او هيڅ حرج وربانديې نشته. په بني اسرائيلو کې به چې چا قتل وکړ ؛ نو د قاتل سزا يواځې قصاص ؤ ، خو په محمدي أُمت کې که څوک د قتل مرتکب شي الله تعالی ورته دا تخفيف ورکړی دی چې د مقتول ورثه ديت هم اخيستلی شي لکه چې الله تعالی فرمايلي دي:( فَمَنْ عُفِيَ لَهُ مِنْ أَخِيهِ شَيْءٌ فَاتِبَاعٌ بِالْمَعْرُوفِ وَأَدَاء إِلَيْهِ بِإِحْسَانٍ ذَالِكَ تَخْفِيفٌ مِّن رَّبِّكُمْ وَرَحْمَةٌ) البقرة:(١٧٨)

ترجمه:- نو هغه څوک چې عفوه وکړه شي (مصلحتا) ده ته له (قصاصه داسلامي) ورور د ده نه څه شی نو لازمه ده (په دې عفو کوونکي) مطالبه د ديت (له (قاتله )په ښه وجه سره، او ورکول (د ديت دي) هغه (عفوه کوونکي) ته په ښه وجه سره.

دا کار (د قصاص جواز يا ديت يا عفوه) آساني ده (له طرفه) د رب ستاسې، او مهرباني ده (چې اختيار يې تاسې ته درکړ).

همدارنگه که چيرې په بني اسرائيلو کې به چا کومه گناه وکړه ؛ نو چې سهار به را پاڅيدلو د هغه د کور په دروازه به هغه گناه ليکل شوی وه او د هغې گناه سزا به هم ورسره ليکل شوی وه. [ عن ابن مسعود رواه ابن جرير]

همدارنگه بني اسرائيلو د غنيمتونو څخه استفاده نشوه کولای بلکې هغوی به غنيمت راټول کړو او په ميدان کې به يې کيښود او د آسمان څخه به اور راښکته شو او هغه به يې وسيزلو. تفسير القرطبي (٧/ ٣٠٠)

**٣- د حضرت محمد صلی الله عليه وسلم د أُمت بله بهتري داده چې الله تعالی ورته د غنيمتونو خوراک حلال گرځولی دی.**

تير امتونه دوه ډوله ؤ ، يو ډول داسې ؤ چې هغوی ته د جهاد کولو اجازه نه وه او غنيمتونه يې هم نه درلودل. دوهم ډول هغه امتونه ؤ چې هغوی د الله تعالی په لار کې د جهاد کولو اجازه وه ؛ خو په جهاد کې د ترلاسه شوو غنيمتونو خوراک ورته جائز نه ؤ، بلکې هغوی به غنيمتونه ددې لپاره راټولول چې معلومه کړي چې آيا د آسمان اور يې سوزوي او که نه ؟ که چيرې ددوی اېښودل شوی غنيمت ته به د آسمان څخه اور راښکته شو او هغه به يې وسوزولو نو دا به ددې علامه وه چې ددوی جهاد قبول شوی دی او که به له آسمان څخه اور راښکته نشو او ددوی غنيمت به يې ونه سوزولو ، دا به ددې علامه وه چې ددوی جهاد دالله تعالی په وړاندې مقبول نه دی.

خو الله جل جلاله د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم أُمت ته د جهاد څخه ترلاسه شوي غنیمت خوراک حلال گرځولی دی الله جل جلاله فرمایلي دي: (فَكُلُواْ مِمَّا غَنِمْتُمْ حَلاَلاً طَيِّباً).الأنفال:(٦٩)

ترجمه:- نو خورئ تاسي له هغه ماله چې غنیمت اخیستی دی تاسی حلال طیب (پاکیزه)

په یو حدیث شریف کې راځي رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: عن جَابِرِ بْنِ عَبْدِ اللَّهِ أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ أُعْطِيتُ خَمْسًا لَمْ يُعْطَهُنَّ أَحَدٌ قَبْلِي نُصِرْتُ بِالرُّعْبِ مَسِيرَةَ شَهْرٍ وَجُعِلَتْ لِي الْأَرْضُ مَسْجِدًا وَطَهُورًا فَأَيُّمَا رَجُلٍ مِنْ أُمَّتِي أَدْرَكَتْهُ الصَّلَاةُ فَلْيُصَلِّ وَأُحِلَّتْ لِي الْمَغَانِمُ وَلَمْ تَحِلَّ لِأَحَدٍ قَبْلِي وَأُعْطِيتُ الشَّفَاعَةَ وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً ».صحيح البخاري (١/ ٣٤٥)

ژباړه:- د جابر بن عبدالله رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام وفرمایل: راکړل شوي دي ماته پنځه (کارونه) چې نه ؤ ورکړل شوي هیچا ته مخکې له ما څخه، زما مرسته کړل شوی ده په رُعب سره په اندازه د یوې میاشتې (یعنې پرته له اسبابو الله تعالی زما رعب ددښمن په زړه کې اچولی دی دیوې میاشتې په فاصله کې) او گرځول شوی ده زما لپاره ځمکه مسجد او پاکوونکې پس هریو سړی زما له امت څخه چې لمونځ ورته ورسیږي یعنې د لمانځه وخت ته ورسیږي ، نو هماغه ځای کې دې لمونځ وکړي او حلال کړل شوي دي ماته غنیمتونه او نه ؤ حلال شوي هیچا ته زما څخه مخکې او ماته شفاعت راکړل شوی دی(شفاعت کبری) او (مخکې) به نبي لیږل کیده یواځې خپل قوم ته او زه لیږل شوی یم ټولو خلکو ته.

بلکې نبي علیه السلام فرمایلي دي: عَنْ ابْنِ عُمَرَ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« جُعِلَ رِزْقِي تَحْتَ ظِلِّ رُمْحِي» صحيح البخاري (٧/ ٤٠٥)

ژباړه:- د عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه روایت دی هغه له نبي علیه السلام څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام فرمایلي دي: گرځول شوی دی زما رزق زما د غشي د سیوري لاندې.

۴- د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د أُمت بله بهتري داده چې د نبي علیه السلام امتیان د ځمکې په هرځای کې لمونځ کولای شي چې پاک وي او په پاکه ځمکه تمیم وهلی شي چې دا ددې امت خصوصیت دی. لکه په مخکني حدیث کې چې ذکر شو.

۵- د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم دأُمت بله بهتري داده چې الله تعالی دوی ټول یوځای له هلاکت څخه ساتلي دي او دوی ټول په یوځای په قحط او ولږې سره نه هلاکیږي. او الله تعالی محمدي أُمت ددښمن په لاس سره د هلاکت څخه هم ساتلي دي چې ددوی ټولنه ټوله له منځه یوسي.

په حدیث شریف کې راځي: عَنْ ثَوْبَانَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّ اللَّهَ زَوَى لِىَ الأَرْضَ فَرَأَيْتُ مَشَارِقَهَا وَمَغَارِبَهَا وَإِنَّ أُمَّتِى سَيَبْلُغُ مُلْكُهَا مَا زُوِىَ لِى مِنْهَا وَأُعْطِيتُ الْكَنْزَيْنِ الأَحْمَرَ وَالأَبْيَضَ وَإِنِّى سَأَلْتُ رَبِّى لأُمَّتِى أَنْ لاَ يُهْلِكَهَا بِسَنَةٍ بِعَامَّةٍ وَأَنْ لاَ يُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ فَيَسْتَبِيحَ بَيْضَتَهُمْ وَإِنَّ رَبِّى قَالَ يَا مُحَمَّدُ إِنِّى إِذَا قَضَيْتُ قَضَاءً فَإِنَّهُ لاَ يُرَدُّ وَإِنِّى أَعْطَيْتُكَ لأُمَّتِكَ أَنْ لاَ أُهْلِكَهُمْ بِسَنَةٍ بِعَامَّةٍ وَأَنْ لاَ أُسَلِّطَ عَلَيْهِمْ عَدُوًّا مِنْ سِوَى أَنْفُسِهِمْ يَسْتَبِيحُ بَيْضَتَهُمْ وَلَوِ اجْتَمَعَ عَلَيْهِمْ مَنْ بِأَقْطَارِهَا ». صحيح مسلم (٨/ ١٧١)

ژباړه:- د ثوبان رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه الله راټوله کړه ماته ځمکه ، نو ما ولیده مشرق د ځمکې او مغرب د ځمکې او بیشکه زما دأُمتیانو پاچاهي به تر هغوی ځایونو پورې رسیږي تر کوم ځای پورې چې ماته ځمکه راټوله کړل شوی وه او راکړل شول ماته هغه دوه خزانې سره خزانه او سپینه خزانه( د کسری او فارس خزانه) او ما د خپل رب څخه غوښتلي دي

چې زما امت په عمومي قحطۍ سره نه هلاکوي او (بل) داچې مه مسلط کوه په دوی باندې دښمن پرته ددوی دځانونو څخه چې ددوی ټولنه او اصل له بيښه وباسي او له منځه يې يوسي اگر که په دوی باندې راټول شي هغه دشمنان چې په کنارو د ځمکه کې دي.

**٦- د دې اُمت نبي تر دوی مخکي له دُنيا رُخصت سوی دی.**

په حديث کي راغلي دي چي کله الله پاک په يوه اُمت د رحمت اراده وکړي، نو پېغمبر يې تر دوی مخکي وفات کړي.

عَنْ أَبِى مُوسَى عَنِ النَّبِىِّ -صلى الله عليه وسلم- قَالَ « إِنَّ اللَّهَ عَزَّ وَجَلَّ إِذَا أَرَادَ رَحْمَةَ أُمَّةٍ مِنْ عِبَادِهِ قَبَضَ نَبِيَّهَا قَبْلَهَا». صحيح مسلم (٧/ ٦٥)

ژباړه:- د ابو موسی رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې نبي عليه السلام وفرمايل: بيشکه الله تعالی چې کله دخپلو بندگانو يو امت ته د رحمت اراده وکړي، نو وفات کړي د هغوی نبي د هغوی دمرگ څخه مخکې.

دا د نبي (صلى الله عليه وسلم)د اُمت له ځانگړتياوو څخه ده چې د محمدي امت نبي له دوی څخه مخکې وفات شوی دی او هغه امتونه چې د هغوی پيغمبر دهغوی څخه وروسته وفات شوی وي، هغه د هغه امت په ناکارۍ دلالت کوي؛ ځکه نورو پېغمبرانو د خپلو قومونو عذاب په خپلو سترگو ليدلی دی.

**٧- د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم أُمت په ځمکه باندې درميانه أُمت دی او دوی په ځمکه کې د الله جل جلاله شاهدان دي.**

الله تعالى فرمايلي دي:( وَكَذَلِكَ جَعَلْنَاكُمْ أُمَّةً وَسَطاً لِتَكُونُوا شُهَدَاءَ عَلَى النَّاسِ وَيَكُونَ الرَّسُولُ عَلَيْكُمْ شَهِيداً).البقرة:(١٤٣)

ترجمه:- او همداسې (لکه چې هدايت مو درته کړی دی) گرځولي يئ مونږ تاسې يوه ډله غوره لپاره ددې چې شئ شاهدان په نورو خلکو (د جزا په ورځ د انبياوو له خوا) او چې شي (محمد) رسول (د الله) پر تاسې ای محمدي امته ! شاهد.

په يو حديث شريف کې راځي: عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: مُرَّ بِجَنَازَةٍ فَأُثْنِيَ عَلَيْهَا خَيْرًا، فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَجَبَتْ، وَجَبَتْ، وَجَبَتْ»، وَمُرَّ بِجَنَازَةٍ فَأُثْنِيَ عَلَيْهَا شَرًّا، فَقَالَ نَبِيُّ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَجَبَتْ، وَجَبَتْ، وَجَبَتْ»، قَالَ عُمَرُ: فِدًى لَكَ أَبِي وَأُمِّي، مُرَّ بِجَنَازَةٍ، فَأُثْنِيَ عَلَيْهَا خَيْرٌ، فَقُلْتَ: «وَجَبَتْ، وَجَبَتْ، وَجَبَتْ»، وَمُرَّ بِجَنَازَةٍ، فَأُثْنِيَ عَلَيْهَا شَرٌّ، فَقُلْتَ: «وَجَبَتْ، وَجَبَتْ، وَجَبَتْ»؟ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ خَيْرًا وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ، وَمَنْ أَثْنَيْتُمْ عَلَيْهِ شَرًّا وَجَبَتْ لَهُ النَّارُ، أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ، أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ، أَنْتُمْ شُهَدَاءُ اللهِ فِي الْأَرْضِ» صحيح مسلم (٢/ ٦٥٥)

ژباړه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې : تيره کړل شوه يوه جنازه نو په هغې باندې ووېل(يعني خلکو يې نېکي بيان کړه، نبي عليه السلام وفرمايل: لازم شو، لازم شو، لازم شو. او تيره کړل شوه بله جنازه ؛ نو په هغې باندې ووېل شو شر(يعني خلکو د هغې بدي بيان کړه) ، نو نبي عليه السلام ووېل: لازم شو، لازم شو، لازم شو. عمر رضي الله عنه ووېل : ستا څخه دې زما پلار او مور فداء شي! يوه جنازه تيره کړل شوه په هغې باندې خلکو ښه ووېل او تاسې ووېل: لازم شو، لازم شو، لازم شو. او بيا بله جنازه تيره کړل شوه، خلکو د هغې په اړه دشر وينا وکړه نو تاسې وفرمايل: لازم شو، لازم شو، لازم شو؟ پس رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل: تاسې چې دچا د نيکي بيان وکړی د هغه لپاره جنت لازم واجب شو او تاسې چې د چا بدي بيان کړی واجب شو د هغه لپاره اور(جهنم)، تاسې د الله تعالى گواهان ياست په ځمکه باندې، تاسې د الله تعالى گواهان ياست په ځمکه باندې، تاسې د الله تعالى گواهان ياست په ځمکه باندې.

بناءً محمدي أُمت چې د چا په هکله ښه يا بده شاهدي ورکړه، الله پاک يې شاهدي مني.

**۸-**کوم کار چې د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په أُمت باندې په جبر او اکراه سره وشي،په هغه گناه یې الله تعالی نه نیسي.

په حدیث شریف کې راځي: عن ابن عباس رضي الله عنهما قال : قال رسول الله صلی الله علیه و سلم :« تجاوز الله عن أمتي الخطأ و النسیان و ما استکرهوا علیه». المستدرك (۲/ ۲۱٦)

ژباړه:- د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: عفوه کړی ده الله تعالی زما د امت خطاء، هیره او هغه (گناه) چې مجبورکړل شي په هغې باندې.

**۹-** عیسی (علیه السلام)به د دې أُمت په یوه ولي پسي لمونځ کوي.

کله چې عیسی علیه السلام له اسمان راښکته شي ، نو هغه به د حضرت محمدصلی الله علیه وسلم په أُمتي پسې لمونځ کوي چې دا ددې أُمت د بهترۍ دلیل دی.

**۱۰-** د قیامت په ورځ به تر ټولو مخکې د دې أُمت سره حساب کیږي.

**۱۱-** د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم أُمت به پر پُل صراط باندې تر ټولو وړاندې تېریږي.

**۱۲-** د قیامت په ورځ به یې د اودس له امله مخونه روښانه او اندامونه به یې ځلیږي.

د قیامت په ورځ به حضرت محمد صلی الله علیه وسلم خپل أُمت د مخونو او ځلیدونکو اندامونو څخه پیژني؛ ځکه چې ددوی هغه اندامونه به ځلیږي چې په اودس کې وینځي. په حدیث شریف کې راځي:عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَتَى الْمَقْبُرَةَ، فَقَالَ: «السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ، وَدِدْتُ أَنَّا قَدْ رَأَيْنَا إِخْوَانَنَا» قَالُوا: أَوَلَسْنَا إِخْوَانَكَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: «أَنْتُمْ أَصْحَابِي وَإِخْوَانُنَا الَّذِينَ لَمْ يَأْتُوا بَعْدُ» فَقَالُوا: كَيْفَ تَعْرِفُ مَنْ لَمْ يَأْتِ بَعْدُ مِنْ أُمَّتِكَ؟ يَا رَسُولَ اللهِ فَقَالَ: «أَرَأَيْتَ لَوْ أَنَّ رَجُلًا لَهُ خَيْلٌ غُرٌّ مُحَجَّلَةٌ بَيْنَ ظَهْرَيْ خَيْلٍ دُهْمٍ بُهْمٍ أَلَا يَعْرِفُ خَيْلَهُ؟» قَالُوا: بَلَى يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ: " فَإِنَّهُمْ يَأْتُونَ غُرًّا مُحَجَّلِينَ مِنَ الْوُضُوءِ». صحیح مسلم (۱/ ۲۱۸)

ژباړه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مقبرې ته راغی او وه یې ویل: السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ، وَإِنَّا إِنْ شَاءَ اللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ) سلام دې وي په تاسو ای د مؤمنانو قریې او بیشکه مونږه که د الله تعالی رضا وي تاسو سره یوځای کیدونکي یو. آرزو لرم چې لیدلي مې وای خپل ورونه. صحابه وو ویل: آیا نه یو مونږ ستا ورونه ای د الله رسوله؟ نبي علیه السلام ورته وویل: تاسې زما اصحاب او ملگري یاستې او زمونږ ورونه هغه خلک دي چې نه دي راغلي . صحابه کرامو وویل: څرنگه به ته پیژنې هغه څوک چې لا تراوسه نه دي راغلي د خپل امت څخه؟ نبي علیه السلام ورته وویل: تاسې مې پوهه کړی که چیرې یو سړی آسونه لري ځلیدونکي وي نښانونه لرونکي وي په لاسونو او پښو کې په منځ د تکو تورو (آسونوکې) آیا نه به پیژني خپل آسونه؟ صحابه کرامو وویل: بلی! یارسول الله پیژني یې.رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: نو دا (زما امتیان) به راشي (د قیامت په ورځ) ځلیدونکي د روښانه نښو والا د اودس له امله.

حافظ ابن حجر رح وایي: (ثبت أن الغرة والتحجیل خاص بالأمة المحمدیة).فتح الباري۴۵۸/۱۱.

ژباړه:- دا ثابت ده چې ځلیدل او روښانه نښې (په اندامونوکې) محمدي امت پورې خاص دي.

**والسلام علیکم ورحمةالله وبرکاته**